AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباري جهاني ۲۰۱۸/۱۰/۲۸

# مستشرقین او پښتو ادب

دا ډېر لوی او پراخ سرليک دی او تر هغه لاندي د يوه بشپړ کتاب ليکلو ته اړتيا ده. ما يوازي د محمد معصوم هوتک د نيرنګ عشق په نوم مضمون په اړه کوښښ کړی دی چي تر دي عنوان لاندي، د يوه لنډ مضمون په وسيله، د پښتو د کلاسيک ادب په باب، يوازي د ميجرراورټي تېروتنو ته ګوته ونيسم؛ او خپل ځوان لوستونکي او د پښتو ژبي د کلاسيک ادب زلمي څېړونکي د راورټي ځينو د تأمل وړ اظهاراتو ته متوجه کړم.
محمد معصوم هوتک ډېر لوی او مهم ادبي کار ته، چي له ده سره يي بشپړ صلاحيت موجود دی، او هغه د عبدالحميد مومند د نيرنګ عشق د کتاب بشپړ او انتقادي متن چاپول دي، ملا تړلي ده. هغه دي خبري ته اشاره کړي ده چي راورټي د پښتو ګرامر په مقدمه کي حميد مومند د تيمورشاه معاصر بللی دی خو وروسته يي په خپل بل کتاب د «افغانانو له شعر څخه منتخبات» کي دا اشتباه اصلاح کړې ده. البته راورټي بايد دا اشتباه د پښتو ګرامر په کتاب کي اصلاح کړې وای؛ ځکه دا ډېره ممکنه ده چي څوک د هغه د پښتو شعر منتخبات کتاب تر لاسه نه کړي. که يي په دي اړه، احياناً، کوم بل مضمون ليکلی وي هغه ما نه دی ليدلی. راورټي د پښتو شعر په منتخبات يا سيليکشن کتاب کي ويلي دي چي حميد مومند د رحمن بابا په سپين ږيرتوب يا زاړه عمر کي زلمی وو او نوی مشهور سوی وو. رحمن بابا هغه ور وباله او حميد مومند هم، د هغه له غوښتني سره سم ورغی. پر رحمن بابا باندي د حميد حياء او ادب دونه اغېزه وکړه چي هغه ته يي دعا وکړه او ورته وي ويل چي ستا د شاعری سيال دي په پښتو ژبه کي نه پيدا کېږي. د رحمن بابا د دعا له برکته تر نني ورځي( د راورټي تر زماني ج) په پښتو شعر کي د حميد سيال نه دی پيدا سوی. راورټي سيليکشن ص ۸۶
ما د رحمن بابا او حميد مومند د ژوند په باب په هيڅ کتاب کي د دي دوو لويو شاعرانو د دغه راز ملاقات او دعا اخيستلو په باره کي څه نه دي لوستي. سړی نه پوهېږي چي مېجر راورټي به دا معلومات له کومه کړي وي. که څه هم چي دا معلومات زيانمن نه دي، خو کېدلای سي چي يو بل خارجي يا داخلي څېړونکی، د همدغي کيسي پر ځای، يوه بله کيسه جوړه کړي، يوه دريمه کيسه جوړه سي او بالاخره د دي دوو لويو شاعرانو ژوند، چي موږ هسي هم ډېر لږ معلومات پکښي لرو، په لوی لاس، په افسانو کي ورک سي.
راورټي په همدغه کتاب کي بل ځای ليکلي دي چي حميد مومند د دريو کتابونو، نيرنګ عشق، شاه وګدا او د دُرو مرجان په نوم شعري مجموعي ليکوال دی. هغه کتاب ص ۸۵ . په داسي حال کي چي نيرنګ عشق، چي زما په عقيده د پښتو ژبي د ادب تر ټولو لوی شاهکار دی، د حميد مومند اثر نه بلکه د غلام محمد د کنجا يا مولنا غنيمت اثر دی چي حميد مومند يي نسبتاً آزاده ترجمه کړې ده. دغه راز شاه وګدا د بدرالدين هلالي اثر دی چي حميد مومند په خوږه پښتو ترجمه کړی دی. البته دُراومرجان د حميد مومند د اشعارو هغه مجموعه ده چي د ده له وفات څخه وروسته يي، ډېرژر، د پښتو ادب په محفلونو کي د موشګاف لقب ور وګاټه.
مېجرراورټي د پښتو ادب او د افغانانو تاريخ ته دونه کار کړی دی چي لږ مستشرقين به يي ځای ونيسي. هغه د پښتو ژبي د کلاسيک ادب ستوري په نړی وپېژندل او زموږ تر ټولو لوی شاعران يي په انګليسي ژبه نړی ته معرفي کړل. د قاضي منهاج سراج طبقات ناصري کتاب يي، چي د غوريانو په باب تر ټولو مستند او قوي کتاب دی، په داسي شکل انګليسي ژبي ته واړاوه چي حاشيي يي، پرته له مبالغي، د کتاب دری چنده کېږي. دا بې ساري کتاب به پېړی پېړی کلاسيک حيثيت لري.
مګر د دي ټولو خبرو معنی دا نه ده چي موږ د راورټي هيڅ ډول تېروتني ته ګوته ونه نيسو. ځکه چي ځيني تېروتني زموږ د ادب او خلکو تاريخ مغشوشوي. راورټي د رحمن بابا په باره کي دونه عجيب او غريب معلومات وړاندي کوي چي سړی نه پوهېږي هغه به له کومه کړي وي او پخپله هم نه وايي چي دا اطلاعات يي له کومي سرچيني څخه تر لاسه کړي دي. ځکه چي نه رحمن بابا د خپل ژوند په باب موږ ته څه وايي او نه بل چا، په هغه زمانه کي، د رحمن بابا د ژوند په باره کي څه ليکلي دي. موږ د هغه له اشعارو څخه يوازي دونه پوهېږو چي هغه نهايت نېستمن


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

سړی وو. که څه هم چي ما د مېجر راورټي تېروتنو ته « د پښتو شعر هينداره» په نوم کتاب کي اشارې کړي دي خو دلته يې د موضوع په اړه بيا يادونه بې ګټي نه بولم.
راورټي د رحمن بابا د ژوند په باب د تبصرې په ترڅ کي ليکي« ويل کېږي چي هغه به دونه وژړل چي په مخ کي به يې د اوښکو لاري جوړي سوې. له خلکو څخه پرله پسې ګوښه کېدلو يو شمېر حسودو مُلايانو ته دا پلمه په لاس ورکړه چي پر هغه باندي يې تورونه ولګول او په خلکو کي يې داسي آوازې خپرې کړې چي رحمن کافر سوی دی؛ له خپل هستوګنځي څخه نه راوزي او د جماعت لمونځ يې ترک وهلی دی. رحمن بابا بالاخره د هغو مُلايانو په سلا او مشوره، چي د ده تر دښمنانو معتدل او نرم ول، له خپل هستوګنځي څخه را ووت او د نورو مسلمانانو سره يو ځای يې لمونځونه او عبادتونه پيل کړل. دی، که يې خوښه وه که نه وه، له نور عالم سره يو ځای کېدلو او ګډېدلو ته مجبور سو» هغه کتاب ص ۲

راورټي د خپلي دې ادعا د ثبوت لپاره د رحمن بابا يوه غزل راوړي چي ګواکي د دغو بدمرغيو او بدو ورځو د ليدلو له امله يې شکايت پکښې کړی دی.

مدام ناست يم وچ کوګل سترګي په نم کښي
عشق راوښود بحروبر په خپل حرم کښي
ماچي ستا د توري زخم په خوله ښکل کړ
نور مي دا لذت بيا نه موند په مرهم کښي
خوار مجنون چه سر په پښو د ليلی کېښود
سرفراز شو په عربو په عجم کښي
لکه مرې د ژونديو تر ميان پروت وي
هسي ښل يم په له په عالمه په عالم کښي
هيڅ صحت مي د دمګرو په دم نه شي
هم په دا چي زما دم دی ستا په دم کښي
زړه مي هسي ستا په زلفو پسي ورک شو
لکه غوټه د چا پرېوزي په تور تم کښي
سره په وينو د سرو ګلو په دود زانګي
هزار زړونه ستا د زلفو په هر خم کښي
زه رحمن ګناه کار خوښ يم له عالمه
باري ستا سترګو رسوا کړم په عالم کښي

د رحمن بابا په ديوان کي د غم او غوسي اظهار دونه زيات ليده کېږي چي سړی، په دغه خاص مورد کي، دې يوه غزل ته خاص اهميت ورکولای نه سي او د دې پرله پسي شکايتونو او اوښکو تويولو علت د هغه نېستمني او ناداري ده. هغه له خپلي نېستمنۍ څخه هر وخت شکايت کړی دی.

څوک دي راکاندي قسم په کردګار
چي درم لرم په کور کښي يا دينار
زه دينار او درم نه لرم په کور کښي
مګر نور خلک مي بولي دنيادار
که څه هم چي په خوله خو نارې وهي چي:
قناعت مي تر خرقي لاندي اطلس دی
پټ د درست جهان بادشاه ظاهر ګدا يم

مګر دې خبري ته څو څو ځله اشاره کوي چي په تش لاس او تش جيب به يې څوک ولي پر خبره غوږ نيسي. رحمن بابا، لکه خزانه په ويرانه کي پروت وو، بايد د ټولني له هري برخي څخه يې شکايت کړی وای. مګر د دې معنی دا نه ده چي مورږ د هغه پر هر غزل باندي د خپلي خوښي سره سم يوه کيسه جوړه کړو. د رحمن بابا ټول ديوان د اسلام د مقدس دين او سمي لاري ته د خلکو د رابللو له تبليغ څخه ډک دی. له هغه سره د مُلايانو د دونه زيات مخالفت دليل، چي د کفر فتوا وربادي ولګوي، بل په هيڅ متن کي نسته. په دې کي شک نسته چي د رحمن بابا په ديوان کي اوښکي تر هر څه زياتي راغلي او پر ګريوان بهېدلي دي؛ او دا پديده د هغه د ژوند منطقي نتيجه ده. مګر د دې معنی دا نه ده چي هغه ټولني ته شا اړولې، په خلوت ننوتلی او د لمونځونو څخه يې لاس اخيستی دی. که د رحمن بابا په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

شعرونو کي د زاهد، واعظ، ناصح ، محتسب او قاضي څخه شکايت او ګيلي سوي دي نو دا د فارسي له کلاسيک ادب څخه نيولي، چي تقريباً ټول يې مخکښ صوفيان او زاهدان ول، بيا د پښتو ژبي تر کلاسيک او نوي ادب پوري دونه عام شکايت دی چي اندازه يې نه لګېږي. دا چي مُلايانو او علماو هغه ته لاس يو کړی او د کفر فتوا يې صادره کړې ده دا معلومات يوازي د راورټي په متن کي موندلای سو.

ميجر راورټي د ميرزا خان انصاري په باب هم دغه راز مغشوش معلومات ورکوي. په لومړي سر کي وايي چي ميرزاخان انصاري، چي احتمال لري د پيرروښان لمسی وو، په کال ۱۶۳۰ ميلادي کي په شاعري پيل وکړ؛ او وروسته دا شعرونه راټول سول او د هغه د غزلو ديوان ورڅخه جوړ سو. هغه کتاب ص ۵۱

په داسي حال کي چي دا د ميرزا خان انصاري د شاعری د پيل کال نه بلکه د وژل کېدلو کال دی. حالنامه، چي تر دغه ګړيه پوري، د روښانيانو د تاريخ په باره کي تر ټولو مستند متن دی، د هغه جنګ تفصيل ورکوي چي د جلال الدين روښاني زوی الهداد (رشيدخان) او ميرزا خان انصاري برخه پکښې اخيستي وه او د شاه جهان په لښکرو کي د دکنيانو پر ضد جنګېدل. په هغه جنګ کي رشيدخان ټپي سو او ميرزا خان د حالنامي د ليکوال په قول په ۱۰۴۰ هجري قمري کي چي ۱۶۳۰ ميلادي کېږي له دې عالم څخه سفر وکړ او مزار يې په شمس آباد کي دی چي د جمعي په شپه اکثر خلک د هغه زيارت ته ورځي او له حق تعالی څخه د خپل يقين په اندازه مراد حاصلوي. مخلص ص ۶۴۸

راورټي د ميرزا خان په باب داسي معلومات راکوي چي په بل هيڅ تاريخي متن کي نسته. دی وايي ميرزا خان ډېر زيات سفرونه کړي دي. له هرات څخه تر اګرې، د افغانستان تر نورو ښارونو او د هند په خاوره کي ګرځېدلی دی او له سوات، باجوړ، پېښور او د افغانستان تر غرنيو سيمو پوري هر ځای يې مريدان او پيروان درلودل. په هندوستان کي په راجستان کي له يوه هندو راجا سره ډېره سو. هغه ډېر وناراوه. مغول اورنګزېب هم هغه ته معاش مقرر کړی وو. راورټي وروسته ليکي چي د مغول اورنګزېب د دربار مُلايان او عالمان د ميرزا خان له عقايدو سره مخالف سول او اورانګزېب يې د هغه په مقابل کي تحريک کړ. اورنګزېب بالاخره په دې راضي سو چي ميرزا خان او مُلايان بحث ته سره کښېنوي. ميرزا خان بالاخره له اګرې څخه ولاړ؛ د مستقلو او نيم مستقلو هندو راجه ګانو سره ډېره سو او هغوی يې ډېر زيات درناوی کاوه. بل ځای ليکي چي د ميرزا په کلام کي به سانسيکريټ کلمات ځکه زيات وي چي هغه له هندوانو سره ډېره ګوزاره کړې وه. وروسته ليکي چي د ميرزا د مړيني په باب هيڅ معلومات نسته؛ ځکه چي د ژوند ډېره برخه يې په هندوستان کي تېره کړې ده او بايد چي په هغه هيواد کي وفات سوی وي. راورټي سيليکشن ص ص ۵۲-۵۵

په زړه پوري خو لا داده چي د همدغه مخ په حاشيه کي ليکي چي يو سړی چي د پيروښان لمسی او د نورالدين زوی وو او ميرزا نومېدی د شاه جهلن په پاچهي کي د دولت اباد په جنګ کي ووژل سو. په دې حاشيه يې خپل متن ځکه نور هم مغشوش کړی دی چي د بحث په پيل کي پخپله وايی چي ميرزا خان د بايزيد روښان لمسی وو او په کال ۱۶۳۰ کي يې په شاعري پيل وکړ؛ او د بحث په پای کي وايي چي ميرزا د نورالدين زوی او د پير روښان لمسی په دغه کال په دولت آباد کي ووژل سو.

البته د دې ټول بحث څخه مي مطلب دا نه دی چي د پښتو ادب او د افغانانو تاريخ ته د راورټي په څېر يوه لوی مستشرق خدمتونو ته، خدای مه کړه، په سپکه سترګه وګورم. بلکه مطلب مي دا دی چي د راورټي په څېر لوی پوهان، چي د والټر بيليو او نورو مستشرقينو او ژب پوهانو په علمي او تاريخي تېروتنو پوري خاندي، پخپله دغه ډول تېروتني کوي چي ځوانان، په تېره بيا، ورته متوجه وي.

پای

## مأخذونه


مخلص، علي محمد. حالنامه. د پښتو ټولني عکسي نسخه د افغانستان د علومو اکاډيمي ۱۳۶۴
عبدالرحمن مومند. د رحمن بابا ديوان. پښتو ټولنه ۱۹۷۷

Raverty, H.G. Selections from the Poetry of the Afghans. Reprint Peshawar 1981




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ